مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۶/۰۳/۰۱

# افغانستان

## طبیعی، بشری، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه

## اتلسمه برخه

۵ – لوګر

لوګر چې د ( لوی غر) یا ( لوګری یا هغه ځوک چې لو کوي) معنی ورکوی، د کابل د جنوبي خوا په څلویښت کیلومتری واټن کې، د پکتیا په لور پروت دی. د لوګر ډېره اوسنۍ سیمه پخوا سجاوند/ سګاوند نومیده، چې ډېر عبادتځایونه یې درلودل. تاریخ لیکی چې ډېر دا عبادتځایونه د صفاریانو د واکمنۍ په وخت کې نړېدلی دي. سجاوند اوس د بره کي برک ولسوالۍ برخه ده.

لوګر تر کال ۱۳٤۳ ه ش پورې د کابل یو اداری واحد و؛ خو وروسته د خلکو د ستونزو د کمولو د پاره، د جلا دربیمه درجه ولایت په توګه وپېژندل شو.

لوګر ٤٥٦٨ km مربع پراخوالی او٤٦٥٦٣٨ نفره اوسېدونکي لری. پل علم د لوګر پلازمېنه ده، چې د کابل- ګردیز په لویه لار پروت کمکی ښار دی. دا ولایت له یوې خوا سپین غر، وچ غاښ او له بلې خوا تیرې کوتل او د چك او میدان لړیو چاپیر کړی دی. لوګر د سمندر له سطحې څخه په منځنی توګه ۱۷۳۳m لوړ دی؛ خو یوه څوکه یې ٤٠۷۱m جګوالی لری( وچ غاښ). د لوګر شمال ته کابل، شمال لویدیځ ته ننګرهار، لویدیځ ته میدان وردک، جنوب لویدیځ ته غزنی، جنوب ختیځ ته پکتیا او ختیځ لور ته پښتونخوا پراته دي.

لوګر نیمه صحرايي اقلیم لري. د کلنی اورښت اندازه یې پخوا ۲۰۰ – ۳۰۰ ملي متره پورې وه، چې اوس د اقلیمی بدلونونو په توسن کمه شوې ده. د اوړي په موسم کې ګرمي ۲٥C⁰ - ۳٥ وي چې ژمي ٥- ۱۰ درجو ته ښکته کېږي. پخوا په دې ولایت ژمی واوره او پسرلی بارانونه کېدل؛ خو اقلیمی بدلونونو وچکالی راوسته او رواني اوبه لږ شوې. د وردګو د چک او تنګي اوبه د لوګر په لاره کابل ته درومي او د څرخي پله په برخه کې له کابل سیند سره یو ځای کېږي. غنم، جوار، کچالو، پیاز، لوبیا، مڼې، انګور او زردالو د دې ولایت مهم کرنیز تولیدات دي. عینک د لوګر و مسو ستر کان دی چې په ټوله نړۍ کې دویم ځای لری. د افغانستان دولت په کال ۲۰۰۸ کې د دې کان د پلټنې، ایستلو او چاڼ کارونه، یو چینایي شرکت ته وسپارل؛ خو داسې ښکاري چې دا شرکت ډېر ورو په مخ درومي او تر اوسه یې کوم ستر ګام نه دی پورته کړی. ناوېلی دې نه وي چې د دې کان په ژورو کې د بودایي دورې یو ښارګوټی هم موندل شوی، چې کارونو ته یې ستونزې پیدا کړی دي. لوګر پریمانه کرومایت او ګرافیت هم لری.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

| شمېر | د ولایت نوم | اداري درجه | مساحت په km2 | ختيځ طو ل البلد | شمالي عرض البلد | دسمندرله سطحي څخه لوړوالی په m | نفوس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ولایت | ۳ | 4568 | 68-42 | 34-22 | 1800 | 473811 |
| 1 | پل علم | مرکز | 1056 | 69-03 | 34-06 | 1875 | 130793 |
| 2 | برکي برك | ولسوالی 2- | 329 | 68-55 | 33-56 | 1930 | 108303 |
| 3 | خوشي | و- ۳ | 477 | 69-12 | 33-59 | 2250 | 29683 |
| 4 | څرخ | و- ۲ | 760 | 68-27 | 33-48 | 2100 | 54733 |
| 5 | محمد آغه | و -۲ | 1017 | 69-06 | 34-13 | 1875 | 92959 |
| 6 | ازره | و -۲ | 770 | 69-38 | 34-09 | 2400 | 25050 |
| 7 | خروار | و- ۳ | | 68-60 | 33-40 | ۱٦۰۰ | 32290 |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ